# ژبه، لهجه او ایکسنټ

# Language, Dialect, and Accent

Yousaf khan Jazab [1]

This paper titled "Language, dialect, and Accent" throws light on some of the basic terms of linguistics as is evident from its name. In modern linguistics and especially in Pashto linguistics, their definitions and parameters have been a subject of debate as apart from linguistic factors, some other factors, e.g. cultural and political, are also involved therefore, it is not easy to draw a line of demarcation in any two of them. In this respect, opinions of the prominent linguists and scholars have been presented and analyzed. Moreover, it has been tried to look for their equivalents in Pashto language.

په نوې ژبپوهنه کښې د سرخط لاندې ورکړې شوې اصطلاح ګانې زمونږ مخې ته ډېر ځله راځي، هرکله چې د دې اصطلاح ګانو پېژندنه اسانه نۀ ده ځکه چې په ژبپوهنه کښې دا په عبوري توګه استعمالېږي او کله کله په يو بل کښې سره ننوځي نو په دې وجه د دې علم د محصلينو دپاره شخړې زېږوي، نو دلته په دې ليک کښې دا ضروري ګڼو چې اول اول د څو هغو لغاتو او اصطلاح ګانو څۀ خو پېژندګلو او وضاحت وکړو چې په ژبپوهنه کښې هر وخت مخته راځي او توضيح او تشريح ته اړتيا لري، نو د هر څۀ نه مخکښې په دې حقله د فکر نيلے زغلوو چې د ژبې نوعيت څۀ دے؟ د لهجې يا ګړ دود بريدونه څۀ دي؟ په دې دواړو کښې د بېلتون کرښه راښکل ممکن هم دي که نه؟ او دا خبره چې ايا دا نيوټرل ټرم دي او که نه؟ او که دا نيوټرل نۀ دے نو بل څۀ داسې اصطلاح شته چې هغه د داسې قسم لانجو څخه خلاصه وي او مونږ ئې په ارت مټ استعمالولے شو؟ په دې سربېره د ایکسنټ يا د نج پېژندنه څۀ ده؟ نو اول د ژبې نه شروع کوو:

## اول ژبه

د ژبې ټکے يو ستر مفهوم لري چې هم په لغوي يا لفظي معنوکښې ئې استعمال موندلے دے نو په بل لوري ئې اصطلاحي بڼه هم غوره کړې ده دلته ددې دواړو اړخونو د جوتونې هڅه کېږي:

1 Assistant Professor, Government Post-Graduate College, Bannu

**د ژبې لغوي مفهوم**

د لفظ "ژبه" په اوربدلو سره د سړي ذهن د وجود هغې اندام ته لاړشي چې د هر ساه لرونکي په خولۀ کښې موجود دے چې يو سر ئې انښتے وي او هغه بل سر ئې په ازادئ سره حرکت کولے شي، که هر څو د غوښې د دې ټکړې له يوۀ نه زيات فعاليتونه دي لکه ذائقه معلومول او مېده شوے خوراک د خوراک نالئ په لوري وړل او داسې نور خو په ځينو ځناورو کښې د دې يو کار اوازونه جوړول هم دي او بيا په تېره تېره په انسان کښې خو دا فعاليت عروج ته رسېدلے دے يعني په انسان کښې ژبه د تکلم ذريعه ده هم په دغه وجه انسان ته حيوانِ ناطق يعني خبرې کوونکے ځناور وئيل شي ځکه چې په ټولو ژوندي سريو کښې د خبرو کولو صلاحيت فقط هم دۀ ته بخښلے شوے دے او غالبا د دې صلاحيت په وجه ژبه د غوښې ټکړې پورې، چې په لغوي معني کښې راځي،محدوده نشوه بلکې وسعت ئې وموندلو او اصطلاحي بڼه ئې خوښه کړه -

**د ژبې اصطلاحي مفهوم**

چونکې د ژبې کار او وظيفه اوازونه جوړول دي خو ژبه دا کار په ګوشې تن سر ته نۀ رسوي بلکې په دې عمل کښې ورسره نور تکلمي اندامونه (Speech Organs) هم برخه اخلي مګر بيا هم ژبه داسې اندام دے چې هغه لکه د ځينو نورو تکلمي اندامونو منفعله نۀ وي بلکې په خولۀ کښې لاندې باندې ځي او يو جوت کردار تر سره کوي ځکه ورته ژبپوهان د خبرې کولو يو فعال رکن (Active Organ) وائي شايد هم د دې فعاليت برکت دے چې د تکلم ټوله ذمه واري هم دې ته منسوب شوې ده او د دې تکلم مقصد او منشا "د پېغام رسونه" (Communication) ده -

دلته څو سوالونه پېدا کېږي يو دا چې صوتونه او اوازونه خو مرغان او ځناور هم وباسي، په نورو لفظونو کښې دوي هم د پېغام رسنئ عمل ترسره کوي ايا په هغو مونږ د ژبې اطلاق کولے شو؟ نود دې ځواب دا دے چې په باقاعده توګه د ژبې اطلاق په هغو اوازونو کېږي چې هغه مونږ يعني انسانان د پېچلو خيالاتو د اظهار پاره په اراده سره او په کاز ادا کوو يعني "ژبه فقط د بني آدم د خولې وتي هغه صوتي اشکالو ته وائي چې دے پرې د خپلو خيالاتو اظهار بل بني آدم ته کوي، د حيواناتو يا د مرغانو په اشارو او آدم په ژبه کښې غټ فرق دا دے چې بني آدم په خپله ژبه خپل

پېچيده خيالات هم ظاهروــلے شي" (K. Bukhari, 1990) – څۀ داسې نۀ ده چې ګڼې د مرغانو اوازونه د ترسيل په دې عمل کښې پاتې راځي، هيچرته نه، خو دا ضرور ده چې د دوي دا کړنه (Act) د ډېرو خاميانو ښکار ده او د ژبنيو خصوصياتو هغه معيار نۀ پوره کوي چې د انساني ژبې خاصه ده يعني د مرغانو په ژبه کښې د لفظ او معني تر مېنځ هېڅ جبري تعلق (Arbitrariness)، تخليقيت (Creativity) او د ژبې مکاني او زماني تعين (Displacement) ډېرکم دــے، او په دې سربېره دلته د اوازونو په سطح د بې معنيتوب او د مورفيم په سطح د معنويت (Duality) او د غږيز نظام جوړښت (Patterning) ښځي نشته (Varga, 2010)

بل سوال دا دــے چې د ژبې ليکل شوې بڼه کوم حيثيت لري؟ نو د ژبې دا عمل زمونږ وينائي اړخ (Spoken aspect) سازوي خو ژبه فقط تر دې عمل يعني وينا پورې محدوده نۀ وي بلکې د دې دائره تر ليک (Writing)او علامت (Sign) پورې هم غزېږي او په دغو دواړو د ژبې يو شان اطلاق کېږي څکه چې پرونۍ ژبه، د ټېکنالوجي د دور نه مخکښې، د تحرير او علاماتو په شکل کښې خوندي ده دې سره سره څېنې نورې ذريعې شته چې هلته د ژبې د وينا اړخ نشته بلکې د اشارو او نښانونو يو نظام وي البته د ابلاغ او تفهيم مکمله ذريعه وي -اګر که ژبه د وئيلو سره تعلق لري او د اوازونو په بنياد خپل عظيم عمارت ولاړ ساتي خوپوهان د ژبې د اطلاق په هغه احساساتو او افکارو هم کوي چې په ليکلې بڼه موجوده وي، د دې  وضاحت دا دــے چې دلته د اوازونو نمائندګي حرفونه او توري کوي، او دې ته ليکلې ژبه وئيلے شي لکه چې Harcourt Brale وائي: "په ارادي توګه پيدا شوــے د علامتونو نظام، د جذباتو، خواهشاتو او افکارو غېرجبلي او خالصه په انساني توګه د ابلاغ طريقې ته ژبه وئيلے شي" (B. M. Bukhari, 2003) – دلته دا وضاحت هم ضروري ګڼو چې داسې نورې ذريعې هم شته چې د هغې په واسطه د خيالاتو اظهار کېدــے شي لکه د ټرېفک (Traffic) د بتۍ مختلف رنګونه او اشارې خو لکه چې مخکښې وليکل شول چې د ژبې د خيالاتو ترسيل او د وګړو تر مېنځه د افهام او تفهيم عمل د اوازونو او صوتياتو په بنياد تر سره کېږي نو څکه د خيالاتو د اظهار دا ذريعې د ژبې معروف تعريف لاندې نۀ راځي څکه چې نوم چومسکي (Noam Chomsky)، ذيلګ هېرس Zellig Harris)) او ليونارډ بلوم فيلډ په طور د تحرير د ژبې قائل نۀ دي (Durani, October 2007) – په دې حقله عطش دراني داسې ليکي: " تحرير خو هسې هم د راتلونکيو پښځۀ ويشتو کالو ميلمه دــے څکه چې

اوس کمپیوټر د اواز نه تحریر او د تحریر نه صوت سفر ختم کړے دے او فقط د صوتیاتي بلکې د دماغي چپس په ذریعه د ابلاغ په لور روان دے چې په کښې به د تحریر ضرورت نۀ پېښېږي" (Durani, October 2007)۔ تقریبا هم دغه خیال پوهنوال محمد صابر خوېشکے لري لکه چې لیکي: "نخښې او سېمبولونه په هره ژبه کښې غږېز دي هغه په دې معنې چې د مفاهمې د وسائلو نور ډولونه لکه اشاره ئي ژبه او د سېمبولونو ژبه د ژبې د علمي تشریح له پلوه او په خاص مفهوم سره ژبه نۀ بلل کېږي" (Kheshke, 2001) – همدغه علت او سبب دے چې ژبپوهان د ژبې اطلاق په هغه عمل کوي چې چرته دا خصوصیات موجود وي:

- اول: اوازونه د ژبني اندامونو په وساطت رغونه مومي
- دویم: د اوازونو نه ساز شوي ټکي (لفظونه) مرکزي کردار لوبوي
- دریم: د ژبنیزو توکیو تر مېنځه د تفاوت او فرق رشته موجوده وي1–

## ژبه په حیث د انساني او سماجي عمل

ژبه خاص یو انساني فعل دے یعني ژبه یوه وسیله (medium) ده چې د خیالاتو اظهار پرې کېږي او د ما في الضمیر ترجماني او عکاسي کوي خو دا ترجماني باید داسې وي چې بل انسان، چې هم د دۀ ټولنې سره ارتباط لري، پرې پوي شې، په نورو لفظونو کښې داسې وئیلے شو چې ژبه یو اجتماعي عمل دے چې پکښې د یوې ټولنې د یوۀ نه زیات کسان برخه اخلي، د ژبې دې اړخ په حقله پوهنوال محمد صابر خوېشکے داسې لیکي: "ژبه د غږیزو او اوریزو نخښو یو داسې کسبي او اتفاقي سیستم دے چې د یوې ژبې وګړي ئې یو له بله د پوهولو پاره پر ژبه راوړي او یو بل ته اوروي (Kheshke, 2001)۔

## د ژبې د مطالعې مختلفې سطحې

هر کله چې اوازونه ترتیب، منظم او باقاعده شکل واخلي چې هغه د دې ژبې مزاج سره سم وي نو ترې نه مورفیم او لغات جوړېږي، هم د دې توکیو نه پخپل وار clauses او جملې یا غونډلې سازېږي چې په دې حواله هم یوه ژبه له بلې جدا وي یعني د ژبې دننه د داخلي ساختونو یوه دنیا اباده وي

اوهم د دې ساختونو په ذريعه د رنګا رنګ خيالاتو او احساساتو څرګندونه کېږي او دې مجموعي عمل ته ژبه وئيل شي، مګر دلته د يوې خبرې وضاحت ضروري دے چې د ژبې په ذريعې سره مونږ په خولهٔ کښې داسې اوازونه هم جوړوو چې هغه زمونږ ضرورت نهٔ وي لکه انجشے (sneezing) او ارمېږے (belch) نو دا په ژبه کښې ځکه نهٔ راځي چې دا قسم اوازونه لاشعوري او غېرارادي وي –

د ژبې، چې يو اجتماعي وظيفه ده، د يوې نه زياتې سطحې دي چې په هغه خاصه سطح مونږ د يوې ژبې څېړنه کولے شو او د مختلفو ژبو دا قسم مطالعې شوې هم دي د څېړنې دا درجې په دا ډول دي:

- د غږ درجه (Phonetics)
- د اواز سطح (Phonology)
- د قواعدو سطح (Morphology)
- نحوي درجه (Syntax)
- معنويات (Semantics)
- د ژبې د عملي اړخ مطالعه (Pragmatics)

## ژبه او جديد نظريات

ډي ساسور په ژبه کښې د پېرول (Parole) او لېنګ (Langue) تصورات مخې ته راوړل چې نوم چومسکي ورته په ترتيب سره Performance او Competence وائي، اوله ذکر شوې اصطلاح د ژبې عملي، زماني او مکاني او حقيقي صورت وي چې د سماج يو فرد يا ګروپ پرې خبرې کوي او دويمه ذکر شوې اصطلاح د ژبې مجرد، اصولي او ائيډيل يا ګرامري صورت وي چې د سماج په ذهنونو کښې خوندي وي، د دې مطلب دا شولو چې د يوې ژبې دوه حصې وي: مجرده او ذهني حصه چې د دې ژبې قواعد او قوانين تشکيلوي او دا حصه د ژبې د ټولو غړوونکيو مشترک ميراث وي او عملي او حقيقي برخه په متعلقه سماج کښې د دې ژبې سره تعلق لرونکي کسان (Individuals) ئې غږوي او په دې لحاظ د ټولو غږوونکيو مشترک ميراث نهٔ وي، اوس اوس چومسکي د دې مزيد درجه بندي

کړې ده چې دوي ورته د ۲ E-Language او I-Language نومونه ورکړي دي: د وړومبني، چې د غړوونکي په دماغ کښې دننه وي او په دې علت ورته داخلي (Internal) وائي، محدوديت دا دے چې په دې کښې د جملو يا غونډلو شمېر محدود وي مګر دويم ذکر شوے تقسيم، چې بهر (External) وي او څېړل کېدے نشي، د سماج د يوې ژبې د ممکنه جملو، چې په هغه بله کښې لا نۀ وي متشکل شوي، ترتيب او سازونه هم بيانوي -

چومسکي او د دۀ پلويان په دې تکل کښې دي چې د رسمي ژبو رسمي قواعد (ګرامرونه) ترتيب کړي او په دا شان د جنرېټو ګرامر دپاره لاره هواره کړي، مګر د دې په عکس اطلاقي ژبپوهان او سوشيولنګوستان د ژبې او د دې موقع او محل په خپلو منځ کښې بېلونه يوه سخته تېروتنه ګڼي او د يوې ژبې دننه د غړوونکې کمونټي ژبني خاصيتونه مهم ګڼي (Trask, 2007)-

د پېرول او لانګ په حقله دلته يو دوه يادونې ضروري ګڼم:

اول دا چې د ژبې په دې دواړو صورتونو کښې مغايرت نشته بلکې هر دواړه د ارتباط په حالت کښې دي هغه داسې چې د ژبې پېرول په اصولي توګه د لېنګ په مرسته تشکيل مومي -

دويمه خبره دا چې د ژبې په پېرول کښې غلطۍ هم ننوتلے شي مګر لېنګ له داسې غلطيو او کمزوريو پاک پېچاو وي د دې مثال دا دے چې کله مونږ خبرې کوو نو په بيړه کښې وو يا د خارج نه د څۀ دباو ښکار وو چې پايله ئې زمونږ د تکلم په کمزورتيا منتج شي يا چې د چا ژبه انښلي دا زمونږ د وړاندې مثال دے نو دا ټول مشکل په پېرول کښې پېښېږي لېنګ کښې داسې قسم مشکلات نۀ وي - (Rahman, 2010)

ژبه يو پېچلے عمل دے چې پکښې د يوې مخصوصې ژبې د غړونو۳ خپل نظام وي او بيا د دې غړونو د يو ځاي کېدلو ټاکلي اصول وي، چې هر کله چې د دې ژبې اوازونه د دې اصولو مطابق په لفظونو کښې بدل شي نو دا لفظ (Form) د معنو (Concepts) لوښے شي چرته چې د صورت او معني تر مېنځ رشته جبري وي مګر صرف لغتونه د ژبې د زده کړې باعث نشي کېدے تر څو چې دا نۀ وي معلومه چې لغتونه په جمله يا غونډله کښې څنګه قطار کېږي؟ نو د ژبې مطلب دے چې سړے نوې نوې جملې جوړولے شي او دا ضروري نۀ ده چې دا جملې دې مخکښې وئيل شوې هم وي

دارنګ په داسې غونډلو د پوهېدلو خبره هم ده نوم چومسکي د ژبې دې اړخ ته "تخليقي صلاحيت" وائي (Fromkin, 2003, pp. 3-10) – په دې سلسله کښې د چومسکي د ژبې دا تعريف ډېر شهرت لري چې هغه نۀ خو د ژبې ترسيلي عمل سره تعلق لري او نۀ ئې د علامتي نوعيت سره څۀ کارشته بلکې هغه د ژبې د ساختياتي خواصو (Structural Properties) ګېرچاپېره چورلي او دا خاصيتونه رياضياتي نکته نظر سره تفتيش کېدے هم شي: "ژبه د متعين يا غېرمتعين غونډلو يوه داسې مجموعه وي چې پکښې هره جمله په اوږدوالي کښې محدوده وي او د يو متعين اجزائے کلام نه ئې رغونه مونډلې وي –"٤ (Lyon, 1987, p. 7) –

تر اوسه چې بره د ژبې په حقله کوم بحث وشو دا خالص د ژبني اړخ نه وۀ او د نورو عواملو نه د اثر او نتائجو نه په کاز ډډه شوې وه ځکه چې دلته خبره هم يوې ژبې شوې ده په داسې طريقه چې مونږ د ژبې يوه سطح هم په نظر کښې ساتلې وه يعني نۀ خو مو يوه ژبه د بلې سره په تقابل کښې کښېښوده او نۀ مو هم د دې ژبې لاندينۍ سطحې څېړلې بس پښتو يا اردو يا فارسي مو ذهن کښې وه نو په دې علت د نورو لاملونو اړتيا نۀ پېښېده مګر هرکله چې په دې ګرښه پښه اخوا دېخوا اړوو نو بيا د ژبې صرف لسانياتي يا ژبني اړخ کار نۀ کوي لکه چې په راتلونکي بحث کښې به ښکاره شي –

دويم- لهجه: چې کله هم مونږ په لهجه خبره کوو نو مونږ په ژبه په مجموعي حېثيت سره بحث نه کوو بلکې د ژبې د ننه په وړو وړو ژبو غږېږو يعني دا د ژبې داخلي سطح ده چرته چې د يوې ژبې د ننه نورې وړې ژبې (Sublanguages) ژوند کوي او په دغو ټولو هم د ژبې اطلاق کېږي مګر دا بحث وروستو رائحي دلته د هر څۀ نه وړاندې لکه د ژبې، د لهجې لغوي او اصطلاحي مفهوم متعين کوو۔

## د لهجې لغوي مفهوم

لفظ "لهجه" د نني دور د لساني مطالعې په نتيجه کښې زمونږ پښتو ته رانوتے دے ٥ چې د عام بول چال يا روزمرې سره ډېر کم تعلق لري ځکه چې عام خلق ئې په اصطلاحي مفهوم پوي نۀ دي، تر څو چې د دې لفظ د لغوي معنې تعلق دے نو دا په توريو کښې د اوازونو ادائېګۍ ته يا د کلام درست تلفظ، د کلام طرز او د ګفتګو انداز ته وائي، دې سره سره دا ژبې، محاورې او بول چال ته هم وئيلے شي (Sarhindi, 1994) د پښتو په علمي دنيا کښې هم دا تورے "د الفاظو اواز، تلفظ، د

وينا طرز، د خبرو انداز" دپاره استعمال شوے دے (Momand, 1994) خو لکه چې پاس وليکل شول چې د دې لفظ اصطلاحي معني هم شته -

## د لهجې اصطلاحي مفهوم

په انګريزۍ ژبه کښې د لهجې له پاره "Dialect" لفظ استعمالېږي اګرکه د انګريزي "Dialect" د اردو غوندې، ژبې دپاره هم راوړے شي، ولې په اصطلاحي معني کښې هم پکاروے شي، د "Dialect" اصطلاحي مفهوم څۀ دے؟ په دې حقله انسائيکلو پيډيا برټانيکا ليکي چې: "لهجه د بول چال او د يوې ژبې د يوخاص انداز نوم دے، ولې وسيع مفهوم کښې د يوې مشترکې او لوئې ژبې ښاخونو ته لهجه وئيل شي (ترجمه)" ("Dialect," 1994) - د انسائيکلو پيډيا برټا نيکا په پاسني تعريف کښې دا خبره مخې ته راغله چې د يوې ژبې ويونکي ټول يوقسم ژبه نۀ وائي، بلکې د مختلفو وجوهاتو له کبله په څو ډلو کښې تقسيم وي هره ډله هم دغه ژبه لږ ډېر فرق سره د بلې نه جدا وائې او د نتيجې په طور د دې ژبې ښاخونه مېنځ ته راځي او هم دا ښاخونه د دې مورنۍ يا غټې ژبې لهجې بلل کېږي، دې ښاخونو ته مونږ د ژبې علاقائي نمونې هم وئيلے شو لکه چې انسائيکلو پيډيا امريکانا ليکي: "د يوې علاقې يا منتطقې مخصوص بول چال چې هغه د ملک غالب او تعليم يافته خلقو د بول چال نه مختلف وي له کومې سره چې دا علاقه يا منطقه (کليواله يا ښاري) تعلق لري، په دې لحاظ مونږ د لهجې تعريف داسې کولے شو چې دا په يوه (لويه) ژبه کښې علاقائي ژبه وي (ترجمه)" ("Dialect," 1958) - په يوه ژبه کښې د ننه د بلې ژبې ساه اخستل په څۀ حواله وي او دا ولې وي؟ نو د لسانياتوماهرين په دې سلسله کښې سماجي عنصر ته زيات اهميت ورکوې لکه چې انسائيکلوپيډيا اف دي سوشل سائنسز ليکلي دي: "په بول چال کښې د لهجو مجموعه د افاقي رجحان نه واخله تر انفرادي تبديليو پورې فقط د سماجي شکل په بنياد وي، دا تبديلۍ د ژبې صوتي شکل، د دې رسمي خصوصيات، د دې د الفاظو ذخيره او د اهنګ او زيروبم غوندې خصوصيات متاثره کوي (ترجمه)" ("Dialect," 1957) -

په دې تعريف کښې که يو طرف ته د لهجې کړۀ ورۀ راپه ګوته شول، چې د صوتي شکل، ذخيرۀ الفاظ او څۀ نورو خصوصياتو سره تعلق لري نو په بل لوري دا هم راوښودل شول چې لهجې د يوې ژبې ويونکيو کښې د سماجي حېثيت په بنياد جوړېږي، خو د سماجي حېثيت سره سره جعرافيائي

موقعیت هم د لهجې د پېداوښت سبب ګرځي ویبستر انسائیکلوپېډیا د ډیالېکټ ټکي تفصیل داسې بیانوي: "په ټولو ژبو کښې د ویونکیو په تلفظ، قواعدو، لغاتو،اسلوب او نورو څیزونو کښې فرق وي دا فرق ویونکي په جغرافیائي او په سماجي حواله له یوهٔ بل جدا کوي، او هم دا اختلاف لهجې بلل کېږي (ترجمه )" ("Dialect," 1984) -

لکه څنګه چې د پورتني بحث نه به ښکاره وي چې لهجې د ژبې مختلفو ښاخونو ته وئیلے شي چې د تلفظ، قواعدو، او لغاتو په حواله یو له بله بېلتون لري، څهٔ نور داسې خاصیتونه لکه د ژبې زیروبم (Stress and intonation) هم له دې سره تعلق لري ولې هر کله چې دا د تحریر په ځاي د تقریر سره تعلق لري او نړیوالو ژبو کښې ورپاره څهٔ خاصې نخښې نهٔ دي مقررې نو دلته زمونږ د بحث له دائرې بهر دي، په هر حال د لهجې هم دا غټ خاصیتونه دي چې بره ذکر شول، د ډاکټر هدایت الله نعیم صاحب د لهجې تعریف هم تقریبا دا خصیتونه لري:

> "کله چې په علمي، ادبي او ژبني اصلاح کښې مونږ لهجه یادوو نود هغې نه مطلب په وړه کچه د یوې علاقې د مختلفو قبیلو د یوې ژبې د خاوندانو ځنې خپل ټکي او د وینا خپل خپل انداز وي په دې جوړ د خصوصي علاقاي ټکیو د استعمال، د دغه ټکیو د تلفظ او د خلقو د خبرو د انداز امتزاج یوه لهجه تشکیلوي" (Naeem, 1996) -

د انګریزی ژبې اکسفرډ ډکشنری هم د لهجې تقریباً دغه خاصیتونه راپه ګوته کړي دي: "لهجه د ژبې ماتحتو حالتونو یا تغیراتو ځنې هغه حالت دے چې د مقامې یا علاقائي خصوصیاتو په وجه په لغاتو، تلفظ او بول چال کښې فرق پیدا کوي (ترجمه)" ("Dialect," 1933) -

دلته د قواعدو په ځاي د "Idiom" تورے راوړلے شوے دے ولې زیات قاموسونه او لغاتونه هم په دې متفق دي چې د لهجې بنیادي اجزاء تلفظ، قواعد او لغات دي، John Lyons چې کله دAccent او Dialect په مېنځ کښې کرښه راښکله نو د لهجې ئې هم دغه درې خاصیتونه وښودل: "په ایکسنټ او ډا یالکټ کښې د ټولو نه غټ فرق دا دے چې په اول ذکرشوي کښې فقط د تلفظ د بدلونو ذکر

وي ولې په دويم ذکر شوي کښې د دې سره سره د ګرامر او ذخيرهٔ الفاظ کښې د تفاوت بحث هم وي (ترجمه)" (Lyon, 1987, p. 268)–

د دنيا په ټولو ژبو کښې بره ذکر شوي تغيرات شته، په نورو لفظونو کښې ګړدودي اختلاف په هره ژبه کښې موندل کېږي په دې سلسله کښې مونږ د انګريزۍ ژبې مثال پېش کولے شو نو دا ژبه هم په جغرافيائي او هم په سماجي لحاظ په مختلفو لهجو کښې تقسيم ده د دې ژبې ماهرين انګرېزي په شرقي، غربي، مرکزي لهجو کښې د جغرافيائي موقعيت له مخې او په معياري (Standard) ،ادبي (Literary) او عوامي (Slang) لهجو کښې د سماجي حېثيت په حواله تقسيموي ـ

دا يو حقيقت دے چې چرته د يوې ژبې ويونکي له ډېره وخته راهسې ميشتهٔ وي هلته په لهجو کښې اختلاف زيات وي، په دنيا کښې داسې ژبې هم شته چې يوه لهجه ئې د بلې لهجې سره په ډېر فرق هم وي لکه د سرائيکي ژبې/لهجې ويونکي دا ژبه د پنجابۍ ژبې نه بدله ګڼي اګرکه په ژبني حواله دا د پنجابۍ لهجه ده ـ

## د لهجې او ژبې تر مېنځ فرق

ژبه (Language) او لهجه (Dialect) د لسانياتو دوه داسې اصطلاح ګاني دي چې ترمېنځه ئې د بېلتون کرښه راښکل ډېر ګران دي (دې حقيقت ته مخکښې اشاره شوې ده) د دې لفظونو مترادفات په انګرېزۍ ژبه کښې نهٔ صرف عام اولس او غېرژبپوهو عالمانو استعمال کړي دي بلکې ژبپوهانو هم راوړي دي ځکه نو دلته دا ضروري ګڼو چې لاندې ئې تفصيل راوړو –

هسې خو په عمومي توګه د دې لفظونو په استعمال کښې هېڅ اشتباه نهٔ پېښېږي او هر څوک ئې په خپل ځپل ځاي سم استعمالوي مګر کله کله ئې بيا هم منفي کارونه وشي، نو هم دا وجه ده چې انسائيکلوپيډيا برټانيکا په دې کښې د يو دا ناسم اړخ په ګوته کوي او ليکي: "د ډايالېکټ اصطلاح په روزمره کښې کله کله په منفي معنو کښې هم رائجې او اکثر د هغو کسانو چې د ژبپوهنې علم نهٔ لري په ذهنونو کښې د دې مطلب د ژبې هغه نوع وي چې د معياري ژبې نه جلا شوې وي او د دې معياري ژبې متعلق خلق دا نظر لري چې دا لوړ مقام څښتنه ده"٦ ("Dialect," 1994) –

دا فقط د انسائیکلوپیډیا برټانیکا کوشي او ځانته رائې نۀ ده بلکې دې طرف ته نورو عالمانو هم کوته نیولې ده لکه د مثال په توګه چېمبر (Chamber) او ټرډګل (Trudgil) هم د ډایالېکټ په حواله د پاسني "منفیت" تفصیل، چې برټانیکا ئې نۀ دے کړے، بیانوي چې په عامه سطح لهجه یوه غېرمعیاري، د کمې درجې او یوه داسې ژبه وي چې د بې تعلیمه کلیوالو او د پرېوتې طبقې سره ئې رشته وي، دې نه علاوه داسې ژبه د وینا خو کېدے شي مګر لیک پکښې نۀ کېږي او چرته د پلو کسان ئې غړوي، هم دا ژبه ده چې د یوې معیاري ژبې ویران شوے شکل ئې خپل کړے وي ( Trudgill, 1998, p. 3 ۷& Chambers) – د ډایالېکټ د اصطلاح دا منفي استعمال کم تکنیکي دے مګر مشهور شوے زیات دے، اصل قصه داسې ده چې تکلم په مختلفو ذریعو او طریقو یوۀ معیار ته رسېدل فرض کړي شوي دي او بیا هم د دې معیاري ژبې بیا نورې لهجې متشکل شوې دي چې د کم حېثیت مالکې دي او هم دا ډایالېکټ دي ("Dialect," 1957) – د وخت تېرېدلو سره دا معیار ته رسېدلې ژبې یوۀ نه یوۀ قوم سره متعلقې شولې او د کم حېثیت مالکو لهجو په سر د ستر حېثیت څښتنې شوې، په تېرو پېړیو کښې د نېشنلزم نظرئې او قومي هېوادونو (Nation States) ورپاره نوره لاره هواره کړه، په دې سلسله کښې انسائیکلوپیډیا اف سوشل سائنسز وروستو لیکي چې په وسیع ثقافتي او نسلي ګروپ کښې ژبه د قومیت په ځاي د شناخت ذریعه وګڼلې شوه چې هغې وروستو بیا مقامي روایات په ځان کښې راونغښتل، د داسې قومیت ژبه عموما په مقامي لهجه اډانه وه چې د هغې روزنه او پالنه د نورو داسې لهجو په سر کېدله چې هغه په اصل کښې یو وخت کښې په ثقافتي حواله مضبوطې او د ستر واک څښتنې وې ("Dialect," 1957) ـ

دا خو وۀ ډایالېکټ ته عوامي اپروچ اوس را ګرځو د ژبپوهانو رایې ته نو اوله خبره خو دا ده چې په تېرو څو پېړیو کښې چې د لسانیاتو د تاریخي اړخ مطالعې زور اخستے وۀ دا اصطلاح په بشپړه توګه د ژبې دپاره استعمالېده چې چرته د دې معني د عام او سطحي معنې، چې بره ئې ذکر وشولو، نه که یو طرفته جلا وه نو په بل لوري ئې هېڅ قسم د نفي احساس نۀ ورکولو او د دې سره سره ټولو ژبو ته یو درناوے او احترام هم موجود وۀ په دې بنیاد چې هره ژبه د دې جوګه چې په درانۀ نظر ورته وکتل شي، دې ژبپوهانو د دې لوي حقیقت نه پرده پورته کړه چې په اصل کښې په ژبه او لهجه کښې هېڅ فرق نشته، دې ژبپوهانو به خبرې یا د ژبې تکلمي اړخ په تاریخي رڼا کښې د ځېرولو تکل کولو د

دوي په خيال که دوه متعلقه ورائټۍ به په يو وخت کښې موجودې وې نو ژبپوهانو به دا نۀ ګڼل چې ګني دا يوه ورائټي د بلې ذيلي شکل يا په نورو ټکيو کښې لهجه ده بلکې دوي به دا دواړه د يوې مشترکې ژبې نه راکوزې شوې خوئندې لهجې يادولې او چې د دواړو تر مېنځ به اختلاف دې ځاي ته ورسېدلو چې تفهيم يا پوهېدنه به ګرانه شوه او د دواړو تر مېنځ د تعلق مزے به له سترګو پنا شولو نو په داسې حال کښې به دغو پوهانو ورپاره د ژبې اصطلاح استعمالوله مګر بيا هم په اصولي توګه د دواړو مېنځ کښې څۀ تفاوت نۀ وۀ ("Dialect," 1957) ۸-

د لېنګوېج او ډايالېکټ اصطلاح ګانې ژبپوهان محض د ابډهاک په بنياد د يو خاص مقصد دپاره راوړي ګني په اصل کښې په مستقله حواله داسې ممکنه نۀ ده دا ځکه چې د ژبې په تشکيل او سرڅېنه کښې صرف لساني عوامل برخه نه اخلي بلکې سياسي، جغرافيائي، د متعلقه اولس تاريخي حالات، د مختلفو ټولګيو سماجي لوړوالے يا کوزوالے او ثقافت هم په دې کښې خپل کردار لوبوي نو هم دا علت دے چې د ژبې تعريف مونږ د دومره زياتو عناصرو په شتوالي کښې فقط په يو عنصر ـــ ژبني ـــ نشو باروے مګر د دې هېڅکله دا مطلب هم نۀ دے چې ګني د ژبې په جوړښت کښې د ژبني اصولو څۀ برخه نشته، نه هېڅکله نه، د دې خپل اهميت دے او مونږ چرته هم د ژبې دا لساني اړخ نشو هېروے مګر عرض دا دے چې دا اړخ يو او فقط يو عنصر نۀ دے چې په ايکي ځان د ژبې هسکه او جګه مانۍ ودروي - د دې دپاره چې دا جوته شي چې د ژبې په جوړښت کښې مختلف عناصر څنګه برخه اخلي په لاندينۍ مثالونو فکر کوو چرته چې په دغه عمل کښې اګرچه ژبني عمل موجود دے خو رښتيا خبره دا ده چې دلته دا عمل له نظره پټ شوے دے او سياسي عمل د خپل حېثيت نه ډېر وړاندې مزل کړے دے بلکې که دا ووايو چې د ژبې په تعين کښې صرف سياسي جز کردار لوبولے دے نو بده به نۀ وي:

- اول: د نولسمې پېړۍ تر شروع پورې ناروېژي ورائټي د ډېنش حصه ګڼل شوه خو چې کله د ناروې خلقو ازادي تر لاسه کړه يعني ځانته خپل ملک حاصل کړلو نو د دوي ژبې هم د ډېنش نه ازاده شوله او د خپل واک او اختيار څښتنه شوله په نورو ټکيو کښې به اوس چا دا نۀ وئيل چې ناروېژي ژبه د ډېنش لهجه ده

- دویم: هم دغسې د معیاري او غیرمعیاري ګړدودونو خبره هم ده د ساري په توګه افریقي ژبه د ازادي حاصلولو نه مخکښې غیرمعیاري حسابېدله خو د دې سیاسي مرام تر لاسه کولو نه وروستو په کره توب ومنل شوه، چیمبر او ټروډګل په دې سلسله کښې د خپلواکۍ (Autonomy) او پردي اختیار (Heteronomy) تر عنوان لاندې یو اوږد او خونده ور بحث کړے دے چې سړے وئیلو ته راپاروي (Chambers & Trudgill, 1998) ـ
- دریم: مېکس وائن رائخ په دې سلسله کښې د یو بل مثال د اردو ـــ هندۍ راوړي چې په ترتیب سره په پاکستان او هندوستان کښې مهمې ژبې دي دوي لیکي چې د ذکر شویو ژبو غړي د یو بل په خبرو ښۀ پوهېږي او د ابلاغ وظیفه په ښۀ شان تر سره کېږي او دواړو ژبو تر مېنځه اختلافات هم دومره زیات نۀ دي لکه څومره چې د اسټرېلیا او د امریکې په انګرېزۍ کښې دي مګر بیا هم دا دواړه د ګوشي ګوشي ژبو حېثیت لري (Fromkin, 2003, p. 446)ـ

د فرومکن ورکړي مثال په تائید کښې به دومره ووایم چې د اردو ژبې وتلي او منلي ژبپوه ډاکټر ګیان چندجېن هم د اردو او هندي په حقله پخپل کتاب "ایک بهاشا: دو لکهاوټ ـ دو ادب"۹ کښې دا ثابته کړې ده چې په لساني حواله دا دواړه یوه ژبه ده البته د هند او پاکستان تر مېنځه غورېدلي سیاسي برید په وجه دا دوه ژبې شوې دي او په دوو رسم الخط کښې لیکل کېږي، د دوي د حقیقت نه ډک لیک صرف د سیاست په وجه متنازعه شولو او د سیاسي کړښې د دواړو غاړو لیکونکیو وغندلو –

بره ذکر شوي دواړه مثالونه په دې حقیقت رڼا اچوي چې د ژبې په رغاونه کښې که یو طرفته ژبني عوامل حصه دار جوړېږي نو په بل طرفته سیاسي عناصر هم وي چې هغه د دې خبرې فېصله کوې چې یوه ژبه دې لاندې راوغورزي او د لهجو په قطار کښې دې ودرېږي او که په بره دې لاړه شي او د یوې خپلواکې ژبې په حېث دې ځان رامعرفي کړي شاید هم په دې علت یدش ژبپوهـ په دې قصه ټینګار کوي چې یوه ژبه د وچې یا د اوبو پوځ په لاسونو کښې صرف او صرف یوه لهجه وي (Fromkin, 2003, p. 445) ۱۰ ولې دا هم نیم رښتیا دي ځکه چې د نړۍ په مخ په هم د یو ازاد ملک په سیمو کښې او هم په مختلفو ملکونو کښې داسې ژبې شته دي چې د دوي نورې ورائټۍ هم په لهجو شمارل کېږي او د ځانته ژبو حېثیت ورته نۀ دے حاصل، نو دا د دې رښتیا غمازي کوي چې فقط

سیاسي جز هم هر څهٔ نهٔ دے بلکې حقیقت د دوارو تر مېنځه چرته پروت دے یعني لینګوسټک خصوصیات هم دومره اهم دي لکه سیاسي عوامل -

ځینې ژبپوهان دا وائي چې که د دوه یا د دوو نه زیاتو لهجو تر مېنځه د تفهیم یعني د پوهېدنې لاره خلاصه وي (په انګرېزۍ ژبه کښې د دې پاره Mutual Intelligibility اصطلاح پکارول شي) نو دوي داسې لهجې د یوې ژبې لهجې یادوي ("Dialect," 1957)، همدغه "په خپلو مېنځ کښې د پوهېدنې مظبوطه رشته" ده چې د یوې لهجې د بلې د خور کېدلو ژبنې فتوي ورکوي او چې کومې لهجې هم په دغه کلک مزي سره تړلې وي هغه د یوې ژبې لهجې بولې په نورو ټکیو کښې ژبه د داسې ګړدودونو جونګ (مجموعه) وي چې مابېن کښې ئې دا تعلق وي (Chambers & Trudgill, 1998, pp. 3-4) -

د ژبې او لهجې تر مېنځه د "پوهېدنې" په بنیاد ګرښه راښکل هم مفیده ده او هم پرې سرے پوهېدلے شي ولې دا سل فیصده د عمل قابله نهٔ ده چې دا تعریف هم خپلې کمزورۍ لري په دې سلسله کښې د چېمبر او د ټروډګل د خیالاتو خلاصه وړاندې کېږي:

- اول: د خپلو ترمېنځه د پوهېدنې په بنیاد ځینې ژبې د ژبو قطار نه ووځي او د ګړدودونو په صف کښې ودرېږي یعني د دې تعریف له مخې ناروېژي، سویډني او ډېنش ژبې ژبې نهٔ بلکې لهجې شمارل کېږي ځکه چې دا درې واړو ژبو ویونکي په خپلو مېنځ کښې ښهٔ سره پوهېږي، په بل لوري ځینې ګړدودونه د ژبو مقام ته رسېږي د مثال په توګه د جرمن ژبې لهجې چې پرې غږېدونکي د پوهېدنې له بریده لرې پرېوزي -
- دویم: دا یو داسې تعریف دے چې د یوې ژبې مختلفو لهجو تر مېنځه د پوهېدنې خبره خو کوي مګر دا نهٔ ښئي چې د پوهېدنې شرح به څومره وي؟ یعني که د دوو لهجو غړوونکي پخپلو مېنځ کښې ۵۰ فیصده سره پوهېږي نو دا هم د دغې ژبې لهجې دي او که د دوو لهجو ویونکیو تر مېنځه د تفهیم شرح ۸۰ فیصد وي نو دا هم د دغې ژبې لهجې دي -
- دریم: د دې تعریف بله خامي دا ده چې د دوو ګړدودونو د وګړیو د پوهېدنې شرح ضروري نهٔ ده چې یو شان وي یعني داسې کېدے شي چې یو طرف ۵۰ پوهېږي او هغه بل لورے

۷۰ فیصده، د دې مثال دا دے چې کړلانۍ او پېښوري د پښتو دوه لهجې دي لیکن داسې نۀ ده چې څومره پېښوریان په کړلانۍ پښتو پوهېږي هم دومره به کړلانیان هم په پېښورۍ پښتو پوهېږي او د دې په عکس هم -

- څلورم: او د دې یوه کمزوري دا ده چې دا د اورېدونکي د نورو ژبو او لهجو سره بلدتیا، د اورېدونکي د باسواده کېدلو شرح او د دواړه اړخه د زده کړې دپاره راضي کېدل استثناء نۀ ښئي، په نورو لفظونو کښې ایکسپوژر، تعلیم او د زده کړې خواهش داسې عوامل دي چې د "تفهیم" ګراف ډېر په بره خېژوي مګر دلته د دې مهمو عناصرو او د دې قسمه نورو عواملو هېڅ ذکر نشته، په پښتنو کښې د ښکاریانو، محصلینو او د هغه کسانو چې د روزګار په سلسله کښې ئې نورو ژبو او لهجو سره واقفیت زیات دے دارنګ چې کومو پښتنو تعلیم زیات کړے دے او نورې لهجې او ژبې ئې زده کړې دي د هغوي Intelligibility زیاته ده -

د دې معروضاتو په وجه چېمبر او ټروډګل دا بحث داسې رانغاړي چې د لساني اړخ نه ژبه یا لینګویج یوه غېرتکنیکي اصطلاح ده نو په دې وجه جانبداره ده ولې د دې په مقابله کښې "ورائټي" یوه غېرجانبداره او نیوټرل اصطلاح ده او هم د دې استعمال ته باید ترجیح ورکړل شي (Chambers & Trudgill, 1998, pp. 3-4)

دلته دا خبره هم باید وشي چې د ژبپوهاتو مطابق ژبه یوه نۀ احساسېدونکي (Abstract) اصطلاح ده چې د یوې ژبې ټول ګړدودنه په خپله غېږه کښې رانغاړي، د دې په ضد د لهجه یا ګړدود مونږ احساسولے شو ځکه چې دا په یوۀ سماج کښې ژوند کوي او د دې سماج وګړي پرې خبرې کوي، مونږ د دواړو تر مېنځه دا فرق داسې جوتولے شو چې د یوې ټولنې وګړي د ګړدود سره نۀ پرېکېدونکي تړون لري نۀ د ژبې سره، همدغه وجه ده چې ژبپوهان په دې خبره هم ټینګار کوي چې لهجه د ژبې هغه فورم دے چې د عوامو د زړۀ درزا اوري او چې چرته تکلمي بدلونونه مهم رول لوبوي -

## اېکسنټ یا نج

د نج تعلق د تلفظ سره دے او د یوهٔ ګروپ مخصوصه اجتماعي ادائېګي په ګوته کوي او دارنګ د یوې ژبې د تلفظ سره تړلي امتیازونه د دې متعلقه ژبې اېکسنټونه دي (Trask, 2007)، که مونږ د انګرېزۍ ژبې مثال واخلو نو په دې کښې امریکنے اېکسنټ، د سکاټ لېنډ اېکسنټ، د اسټرېلیا اېکسنټ، د لندن د کار کوونکیو اېکسنټ، د فرانسیسي اېکسنټ، د هند اېکسنټ او داسې نور، د اېکسنټ په دې مثالونو کښې داسې اېکسنټونه هم شته چې لکه د لهجې هم په جغرافیائي حواله رغونه مومي د ساري په توګه امریکنے اېکسنټ، د هند اېکسنټ، او داسې هم چې د خپل تشکیل دپاره د سماجي عناصرو محتاج وي لکه د لندن د کار کوونکیو اېکسنټ۱۱ –

په نج کښې د یوهٔ ګروپ کوم تلفظي خصوصیات د بل ګروپ نه بدل وي یا په نورو ټکیو کښې اېکسنټ د تلفظ کومې ځانګړنې لري نو په دې سلسله کښې دا تغیرات د توجه وړ دي:

- اول: د غږ او اواز سره اړین متغیرات
- دویم: د ژبې رسمي خصوصیات
- دریم: عروضي خاصیتونه لکه سټرېس، آهنګ او داسې نور –

## اېکسنټ او لهجه

ډېر ځله مونږ وینو چې لهجه یا ګړدود او د نج (Accent) په استعمال کښې اشتباه پیدا کېږي بلکې داسې کسان هم شته چې دا دواړه اصطلاح ګانې په یوه معنې کښې راوړي یعني دوي د نج په ځای ګړدود او د ګړدود په ځای نج راوړي ولې داسې نهٔ ده ځکه چې د دواړو تر مېنځه تفاوت شته –

په اېکسنټ او ګړدود کښې اشتباه صرف نابلدو ته نهٔ ده پېښه شوې بلکې په نړیواله کچه هم دا اشتباه وجود لري د ساري په توګه په امریکني او برطانوي ژبپوهانو کښې د هر دواړو په اړه د نظر اختلاف شته لکه چې ټراسک لیکي:

"د برطانوي عالمانو له نکته نظره، ډیالېکټ محض د قواعدو او د لغاتو خصوصیاتو ته وائي او د ټکیو وېینګ (تلفظ) د یو بل سرخط، چې اېکسنټ ورته وئیلے شي، لاندې راځي، خو د امریکنیانو په خیال نج په عمومي توګه د ډیالېکټ یوه حصه شمارل کېږي" (Trask, 2007) -۱۲

لکه چې بره د اېکسنټ په پېژندنه کښې ولیکل شول چې همدغه عالم پخپله هم اېکسنټ په تلفظ پورې تړي، چې خبره لږه نوره رڼا شي دلته یو ځل بیا چېمبر او ټروډګل ته مراجعت کوو چې دوي د دواړو اصطلاح ګانو تر منځه یوه ختمي کرښه داسې د راکاږلو هڅه کوي:

"اېکسنټ د وینا هغه انداز دے چې د یو وېناوال د تلفظ اړخ په ګوته کوي او په دې سبب هغه ورائټي ته وئیلے شي چې کومه د بلې نه د فونېټک یا د فونالوجي په حواله مختلفه وي، په بل لوري ګرډود یا لهجه هغه ورائټي ته اشاره کوي چې د قواعدو (او شاید د لغاتو) او د فونالوجي په اړه د بلې ورائټۍ نه جدا وي" (Chambers & Trudgill 1998) - ۱۳

په دې پاسنیو تعریفونو کښې برطانوي پوهان لهجه یا ډیالېکټ "د قواعدو او د لغاتو خصوصیاتو" ته وائي (وګورئ، دوي د تلفظ خصوصیات د دې حصه نۀ ګڼي)، امریکني پوهان ډیالېکټ قواعدو، لغاتو او تلفظ درېواړوخصوصیاتو ته وائي او چېمبر او ټروډګل په لهجه کښې قواعد او فونالوجي خو یقیني کوي (مګر د لغاتو په سلسله کښې ختمي فېصله نۀ ورکوي) -

په ظاهره داسې ښکاري چې ډیالېکټ او اېکسنټ دوه جدا او ګوشي اصطلاح ګانې دي چې د دواړو تر منځه په اسانۍ سره د بېلتون کرښه راښکل کېدے شي خو له بده مرغه داسې نۀ ده، لکه د ژبې د اصطلاح دا اصطلاح ګانې هم ژبپوهان په عارضي توګه پکاروي ځکه چې دواړه په یو بل کښې ننوځي، نو ښۀ به دا وي چې د ژبې، ګرډود او نج دپاره هم هغه پاسنے ټرم "ورائټي"۱٤ وکاروو چې د هر قسم جنجال نه خلاص دے -

## ماخذونه

۱: Bukhari, B. M. (2003). Urdu our Khwar ke Lisani Rawabit. Islamabad: Muqtadara Qawmi Zaban.

۲: Bukhari, K. (Ed.). (1990). Paẋto Žəba (4 ed.). Peshawar: Azim Publishing House.

۳: Chambers, J. K., & Trudgill, P. (1998). Dialectology: Cambridge University Press.

۴: Dialect. (1933) (Vols. 3E). London: Oxford University Press.

۵: . Dialect. (1957) Encyclopedia of the Social Sciences (12 ed., Vol. 5). New York: The Macmillan Company. (Reprinted from: 12).

۶: . Dialect. (1958) The Encyclopaedia Americana (Vol. 9). Washington DC: American Corporation.

۷: . Dialect. (1984) The Webster Family Encyclopaedia (Vol. 5): Webster Publishing Company.

۸: . Dialect. (1994) The new Encyclopedia Britannica (15 ed., Vol. 4). U.S.A. (Reprinted from: 15).

۹: Durani, A. (October 2007). Urdu Lisaniat ki Jadid Hadud o Qayud. Akhbar e Urdu, 24 (10).

۱۰: Fromkin, V. (2003). An Introduction to Language (7 ed.). Boston: Thomson Wadsworth.

۱۱: Khattak, K. K. (No date of print). Armaghan e Khushal. Peshawar: University Book Agency.

۱۲: Kheshke, M. S. (2001). Paxto Ghagpohana aw Wayipohana. : da Afghanistan da Kalturi wade Tolana Germany.

۱۳: Lyon, J. (1987). Language and Linguistics. New York: Cambridge University Press.

۱۴: Momand, Q. (Ed.) (1994) Daryab. Pehawar: NWFP Text Book Board.

۱۵: Naeem, H. U. (1996). Da Paẋto žəbe ilmi tahqiqi aw takhliqi nasər ke da lwastunkio masail. Paẋto, 28 (10-11).

۱۶: Rahman, T. (2010). Linguistics for Beginners. Karachi: Oxford University Press.

۱۷: Sarhindi, W. (Ed.) (1994) Ilmi Urdu Lughat. Lahore: Ilmi Kutab Khana.

۱۸: Trask, R. L. (2007). Language and Linguistics (2nd ed.). New York: Routledge.

۱۹: Varga, L. (2010). Introduction to English Limguistics. Budapest: Eotvos Lorand University.

## حوالې

1. د مصنف خپل ټکي دا دي:

"Linguistic communication, i.e. the use of language, is characteristically vocal and verbal behavior, involving the use of discrete language elements" (Verga, 2010, 12).

2. په مجموعي ډول د ژبې همدغه برخه د څېړنې موضوع وي -

3. له غړونو پرته علامتونه هم په دغه قطار کښې شمار دي چې مونږ ئې د ګونګیانو په ژبه کښې د اشارو په صورت کښې وینو او تحریر کښې ئې د حرف په شکل کښې-

4. د دې نامتو ژبپوهـ خپل تګي دا دي:

"Language is a set (finite or infinite) of sentences, each finite in length and constructed out of a finite set of elements."

5. نن نه تقريبا څلور سوه کاله مخکښې خوشال بابا د لهجې دپاره د "ژبې" تګے راوړے دے، وګورئ په لاندېني شعر کښې ترکيب د شيتکو "نيمه ژبه" (اوس په بنيځې يا بنيځووله يا بنې ووله لهجه شهرت لري)، شعر دا دے:د هر چا سره چې کښېني هم هغه شي » اوس مې نيمه ژبه خوښه شوه شيتک يم (Khattak, No date of print)

6. د دې ډکشنرۍ اصل لفظونه داسې دي:

"The term dialect sometime has negative connotation in everyday use. More often than not, in the minds of non-linguists, it connotes a derivation from the standard language, which is commonly thought to be superior."

7. .7 د دې عالمانو رايې هم د دوي په لفظونو کښې ولولئ:

"In common usage, of course, a dialect is a substandard, low-status, often rustic form of language,

generally associated with the peasantry, the working class, or other groups lacking in prestige. Dialect is also a term which is often applied to forms of language, particularly those spoken in more isolated parts of the world, which have no written form. And dialects are also often regarded as some kind of (often erroneous) deviation from a norm – as aberrations of a correct or standard form of language."

8. دا په هم خپله ژبه کښې وګورئ:

"If two obviously related forms of speech are spoken at the same time, the linguist does not say that one of them is a dialect of the other but that both are sister dialects of same common prototype, known or inferred. When they diverge so far as not only to be mutually intelligible but no longer to be too obviously related to each other, the term language is more freely used than dialect, but in principal there is no difference between the two."

9. يعني "يوه ژبه: دوه رسم الخطونه ــ دوه ادبونه" چې دا راپه ګوته کوي چې ژبه يوه ده مګر په دوو ليکدودونو کښې ليکل کېږي چې پائيله ئې دوه قسم ادبونه يعني اردو ادب او هندي ادب دي -

10. د دې ژبپوه دا مشهور قول دا دے

''A language is a dialect in the hands of army and navy''

11. انګرېزي یوه بین المللي ژبه ده چې په ټوله نړۍ حکومت کوي نو په دې وجه د دې جغرافیائي بریدونه بلها ستر دي، د دې د حدونو موازنه د ګړدود د بریدونو سره کول یوازې د تفهیم او اسانتیا دپاره دي –

12. “In British usage, the term dialect includes only features of grammar and vocabulary, while features of pronunciation are treated under the quite different heading of accent. In American usage, an accent is usually considered to be just one part of a dialect.” (P: 72)

13. “An ‘Accent’ refers to the way in which a speaker pronounces, and therefore refers to a variety which is phonetically and/or phonologically different from other varieties. ‘Dialect’, on the other hand, refers to varieties which are grammatically (and perhaps lexically) as well as phonologically different from other varieties.” (P: 5)

14. پښتو کښې دې اصطلاح دپاره تر اوسه زما له نظره داسې ترجمه نهٔ ده تېره شوې چې په اصطلاحي توګه د دې لفظ مفهوم خپلوي، شاید څوک په نیوولوګزم کار کوونکے دې طرف ته پام راوګرځوي –